# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# د حضرت عیسی په دریاب کښې طوفان آرامول




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.






بیا عیسی مسیح په کشتئ کښې سور شو او مریدان هم ورسره سوارۀ شول. خو په دریاب کښې یو زورور طوفان راغلو او چپې داسې اوچتېدې چې په کشتئ راواړېدې. په داسې قسمه طوفان کښې کشتئ ماتېدے هم شوه او ډوبېدے هم شوه.

طوفان شاګردان ویرول، او چپو کشۍ د اوبو نه ډکه کړه. خو عیسی ښۀ په سکون سره اوده وو. نو مریدان ورغلل او رابیدار یې کړو چې، مالکه مونږ بچ کړه مونږ ډوبیږو.



3

تاسو ولې دومره یریږئ، ستاسو ایمان څومره کمزورے دے؟ بیا هغه ودرېدو، طوفان او د اوبو چپې یې ورټلې نو په هغه ساعت قلاره قلارې شوه.



4

طوفان قلار شو... سمندر په آرام شو... او قلاره قلارې شوه. مریدان په دې ننداره ډېر حېران شول او دوئ ووئیل چې، ”دا لا څۀ قِسم سړے دے چې هوا او چپې یې هم حکم منی؟“



5

څۀ موده وروستو، عیسی مسیح یوه مصروفه ورځ تېره کړه. تقریباً څۀ پینځۀ زرو نه هم زیات خلق په هغۀ پسې یو خوشې بیابان ته راغلل. د خدائ پاک په قدرت سره عیسی مسیح هغه ټول خلقو صرف د یو وړوکی هلک په ډوډئ باندې ماړۀ کړل. دا د ماښام وخت وو نو عیسی مسیح ټول رُخصت کړل.



6

تر دې چې شاګردان یې هم لاړل. عیسی مسیح هغوئ په کشتۍ کښې ولېږل چې هغوئ د هغۀ نه مخکښې د ګلیل دریاب پورې غاړې لاړ شی.



7

او چې کله هغۀ ټول رُخصت کړل، نو عیسی مسیح په خپله د دعا د پاره غر ته لاړو. او کله چې ماښام ناوخته شو نو هغه هلته کښې یواځې وو.



8



په هم هغه وخت کښې مريدانو
ته د وچې نه ډېر وړاندې په
اوبو کښې تکليف جوړ شو
ځکه چې کشتۍ اوبو په
مخکښې تلو ته
نۀ پرېښودله.
او هغوئ د
ګنټو داسې
چَپو وهلو.

9



شاګردانو ته دا پته نۀ
وه، خو دا د هغوئ د
پاره ډېره د حېرانتيا
خبره وه!

10



عيسیٰ په شپه کښې د سحر
کېدو نه لږ وړاندې د اوبو
دپاسه روان وو او د مريدانو
خوا ته راغلو. هر کله چې
مريدانو هغه د اوبو دپاسه
روان وليدو نو هغوئ
ويرېدل، او چغې يې کړې،
”دا خو پيرے دے.“ خو
هغه عيسی مسيح د هغوئ
مالک وو. څوک چې د
هغوئ په طرف د اوبو د
پاسه راروان وو.

11



عيسیٰ ورته سمدستی
وفرمائيل چې، ”مۀ يرېږئ.
دا زۀ يم چې يره ونۀ کړئ.“
پطروس عيسیٰ ته ووئيل
چې، ”مالِکه، کۀ چرې دا تۀ
يې نو ما ته حُکم راکړه چې
زۀ هم د اوبو دپاسه درشم.“
عيسیٰ ورته وفرمائيل چې،
”راځه.“ بيا پطروس د
کِشتۍ نه کوز شو او د اوبو
دپاسه د عيسیٰ خوا ته
ورروان شو.

12



خو هر کله چې هغۀ
د طوفان زور وليدلو
نو هغه وويرېدو، او
چې ډوبېدو نو چغې
يې کړې چې،
”مالِکه، ما بچ کړه.“

13



عيسیٰ سمدستی خپل لاس وراوږد کړو او
هغه يې د لاسه ونيوو او ورته يې وفرمائيل،
”ستا عقيده څومره کمزورې ده. شک دې
ولې وکړو؟“ هغوئ چې کله په کِشتۍ کښې
سوارۀ شول بيا طوفان ودرېدلو.

14






د حضرت عیسی په دریاب کښې طوفان آرامول

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

متی ۸، متی ١٤، مرقوس ٤، لوقا ۸

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119



# ختم شو

48 60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲